# دَ تِسالونیکانو په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط

## سلام

١ ١ دَ پولوس اَؤ سیلوانوس اَؤ دَ تیموتیوس له طرفه، دَ
تِسالونیکانو دَ جماعت په نُوم چه زمُونږ دَ پلار خُدائے اَؤ دَ
مالِک عیسیٰ مسیح دے،

٢ په تاسو دِ دَ خُدائے پلار اَؤ عیسیٰ مسیح له طرفه فضل
اَؤ سلامتی وی.

## دَ مسیح په راتلو عدالت

٣ اَئے ورُوڼو! ستاسو په باب کښے په مُونږ هر وخت دَ
خُدائے شکر ویستل فرض دی، اَؤ دا ځکه مُناسب دی چه
ستاسو ایمان ډیر لوئیږی اَؤ ستاسو یو بل سره مینه زیاتیږی.
٤ بے شکه چه مُونږ په خپله دَ خُدائے په جماعتُونو کښے
په تاسو فخر کوُو، چه څومره ظُلم اَؤ تکلیفُونه چه تاسو
زغمئ په هغو ټولو کښے ستاسو صبر اَؤ ایمان ظاهریږی.

٥ دا دَ خُدائے دَ ریښتُونی عدالت ثبُوت دے دَ پاره دَ دے
چه تاسو دَ خُدائے دَ بادشاهئ لائق شئ دَ کُومے دَ پاره چه
تاسو تکلیفُونه هم زغمئ. ٦ ځکه چه خُدائے اِنصاف
کوُونکے دے، هغه به هغوئ ته چه تاسو له مُصیبت پیدا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی په بدل کښې مصیبت پیدا کړی. ۷ اَؤ هغه به تاسو
مُصیبت زغمُونکو ته زمونږ سره آرام درکړی کله چه به
مالِک عیسیٰ دَ خپلو قوتناکو فرښتو سره په شُغله ناک اور
کښې دَ آسمان نه ظاهر شی. ۸ هغه وخت به هغوئ چه
خُدائے نهٔ پیژنی اَؤ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح زیرے نهٔ
منی، هغوئ ته به سزا ورکوی. ۹ هغوئ به دَ مالِک دَ
ځیرے اَؤ دَ هغهٔ دَ قُدرت دَ جلال نه لرے دَ تل عُمری مرګ
سزا بیا مومی. ۱۰ دا به په هغه ورځ وی کله چه هغه راځی
چه دَ هغهٔ پاکان دَ هغهٔ جلال ښکاره کوی، اَؤ ټول په هغهٔ
ایمان راوړُونکی به دَ هغهٔ حمد و ثنا ووائی. په هغوئ کښې
به تاسو هم شامل یئ ځکه چه تاسو زمونږ په ګواهئ ایمان
راؤړے وو.

۱۱ دَ دے دَ پاره مُونږ ستاسو دَ پاره هر وخت دُعا کوُو چه
زمونږ خُدائے دِ تاسو دَ دے بلنے جوګه وګڼی، اَؤ ستاسو دَ
نیکئ هر یو خواهش اَؤ دَ ایمان هر یو کار دِ په قُدرت پُوره
کړی، ۱۲ تر دے چه زمُونږ دَ خُدائے اَؤ مالِک عیسیٰ مسیح
دَ فضل په مُطابق زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ نُوم په تاسو کښې
جلال ومُومی اَؤ تاسو په هغهٔ کښې.

## بے شرعے سړے

۲ ۱ نو اوس اَئے ورُوڼو! مُونږ دَ خپل مالِک عیسیٰ
مسیح دَ راتلو اَؤ دَ هغهٔ سره زمُونږ دَ راغونډېدلو په باب
کښې تاسو ته خواست کوُو ۲ چه ستاسو عقل دِ ناڅاپی
پریشانه نهٔ شی اَؤ ستاسو وار دِ خطا نهٔ شی چه ځوک ووائی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه دَ مالِک ورځ رارسیدلے ده، یا دَ رُوح دَ هدایت نه په هغهٔ
دا ظاهر شوے دے، یا زمُونږ دَ پیغام یا خط نه ښکاره شوے
دے، نو تاسو داسے خبره مه منئ. ۳ په هیڅ شان سره دَ
چا په فریب کښے مه راځئ، ځکه چه هغه ورځ به نهٔ راځی
تر څو چه خلق اول دَ خُدائے نه گرزیدلے نهٔ وی اَؤ دَ
نافرمانئ نمائنده ظاهر نهٔ شی، یعنے څوک چه دَ هلاکیدو دَ
پاره مُقرر شوے وو. ۴ هغه به دَ هر چا چه هغه خُدائے
بللے شی یا دَ هغه عبادت کولے شی، هغه نمائنده به ئے
مُخالفت کوی اَؤ خپل ځان به دَ هغه نه لوئے جوړوی، تر
دے چه هغه دَ خُدائے په کور کښے ناست به وائی چه "زَهٔ
خُدائے یم."

۵ آیا تاسو ته یاد نهٔ دی چه هر کله چه زَهٔ تاسو سره وم نو
تاسو ته به مے دا خبرے کولے؟ ۶ اوس چه کُوم څیز
هغه ایساروی تاسو دَ هغے نه خبر یئ، هغه به په خپل خاص
وخت ظاهر شی. ۷ په اصل کښے نافرمانی اوس هم پټ
په پټه خپل اثر اچوی لگیا ده، اَؤ دَ هغے اثر به تر هغے په
ښکاره نهٔ خوریږی تر څو چه دَ هغے ایسارؤونکے لرے نهٔ
کړے شی. ۸ هغه وخت به هغه دَ نافرمانئ نمائنده
ظاهریږی اَؤ مالِک عیسیٰ به هغه دَ خپلے خُلے په پوکی مړ
کړی اَؤ دَ خپل ظاهریدو په جلال به ئے نِشت کړی. ۹ دَ
نافرمانئ نمائنده به دَ شیطان دَ اثر په مُطابق دَ هر قِسمه دَ
دروغو دَ قُدرت په نخښو اَؤ په عجیبه کارُونو سره راځی، ۱۰
اَؤ هغوئ چه بربادیدُونکی دی به دوکه کړی. هغوئ دَ
رښتینوالی قدر ونهٔ کړو اَؤ نهٔ ئے قبول کړو، اَؤ که کړے ئے
وَئے نو خلاصُون به ئے مُوندلے وو. ۱۱ دغه وجه ده چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائے به په هغوئ دَ گُمراه کوُونکے تاثیر ورولیږی چه
هغوئ به دَ نافرمانئ دَ نمائنده دروغ رښتیا وګڼی. ١٢ اَوُ
څومره خلق چه په حق یقین نهٔ کوی اَوُ بدی خوښوی، هغه
ټول به سزا ومُومی.

## دَ خلاصُون دَ پاره غوره شوی

١٣ خو اَئے وروڼو! دَ مالِک خوږو! ستاسو په باب کښے
په مُونږ هر وخت دَ خُدائے شکر کول فرض دی ځکه چه
خُدائے تاسو دَ اول نه دَ دے دَ پاره غوره کړی یئ چه دَ رُوحُ
القُدس په وسیله پاک شئ اَوُ په حق ایمان راؤړئ اَوُ
خلاصُون ومُومئ. ١٤ دَ دے دَ پاره هغهٔ تاسو زمُونږ دَ زیری
په وسیله راوبللئ چه تاسو زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح جلال
حاصل کړئ. ١٥ نو اَئے ورُوڼو! مظبُوط پاتے شئ اَوُ دَ
کومُو خبرو چه تاسو زمونږ دَ خُلے یا دَ خط په وسیله تعلیم
مُوندلے دے تاسو په هغے قائم شئ.

١٦ اوس دِ زمُونږ مالِک عیسیٰ مسیح په خپله اَوُ زمُونږ پلار
خُدائے چه زمُونږ سره مینه وکړله اَوُ دَ فضل په وسیله ئے
آبدی تسلی اَوُ ښهٔ اُمید راوبخښلُو، ١٧ ستاسو زړُونو ته دِ
تسلی درکړی اَوُ په هر ښهٔ کار اَوُ کلام باندے مُو دِ مضبوط
کړی.

## زمُونږ دَ پاره دُعا کوئ

٣ ١ نو اَئے ورُوڼو! زمُونږ په حق کښے دُعا کوئ چه دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک کلام داسے زر خور شی اَؤ په عزت سره قبُول کړے
شی څنګه چه په تاسو کښے ۲ اَؤ چه دَ بدو اَؤ ورانو خلقو
نه مُونږ بچ پاتے شُو ځکه چه هر څوک ایمان نۀ راؤړی.

۳ خو مالِک رښتُونے دے، هغه به تاسو مظبُوط کړی اَؤ
له هغه شریر نه به مو په امان کړی. ۴ اَؤ په مالِک کښے
زمُونږ په تاسو باور دے چه مُونږ تاسو ته کُوم حُکمُونه
درکوُو په هغوئ عمل کوئ اَؤ کوئ به ئے هم.

۵ مالِک دِ ستاسو زړُونه دَ خُدائے په مینه اَؤ دَ مسیح په
صبر معمُور کړی.

## سُستو خلقو ته خبرداری

۶ اَئے ورُوڼو! مُونږ دَ خپل مالِک عیسیٰ په نُوم تاسو ته
حُکم درکوُو چه دَ هر هغه ورور نه په ډډه شئ چه سُست دے
اَؤ په هغه تعلیم عمل نۀ کوی چه هغۀ ته زمُونږ له طرفه نه
وروررسیدلو. ۷ ځکه چه تاسو په خپله خبر یئ چه زمُونږ په
شان څنګه چلیدل په کار دی ځکه چه مُونږ په تاسو کښے
سُست نۀ تلُو. ۸ اَؤ دَ چا ډوډئ مو مُفته نۀ خوړله بلکه شپه
اَؤ ورځ به مو خواری، مُشقت اَؤ کار کولو چه په تاسو کښے
په چا پیټے وانۀ چوُو. ۹ دا نۀ چه مُونږ ته اِختیار نۀ وو
بلکه دَ دے دَ پاره چه خپل ځانُونه تاسو ته دَ نمُونے په طور
پیش کړُو، دَ پاره دَ دے چه تاسو زمُونږ په شان جوړ شئ.
۱۰ کله چه مُونږ تاسو سره وُو هغه وخت به مو هم تاسو ته
دا حُکم درکولو چه چا ته چه محنت کول منظور نۀ وی نو
هغه دِ ونۀ خوری.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ مُونږ آؤرُو چه په تاسو کښې ځنې سُست دی اَؤ هيڅ
کار نهٔ کوی بلکه دَ نورو په کار کښې دخل کوی. ١٢
داسې کسانو ته مُونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح په نُوم حُکم
ورکوُو اَؤ نصيحت کوُو چه په پټه خُلهٔ دِ کار کوی اَؤ خپله
ډوډئ دِ په خپله گټی.

١٣ زما ورونړو! خو تاسو په ښهٔ کار کښې هِمت مهٔ بائيلئ.
١٤ اَؤ که څوک زمُونږ دَ دې خط خبره نهٔ منی نو هغه په
نظر کښې ساتئ اَؤ دَ هغهٔ نه په ډېره شئ چه هغه وشرميږی.
١٥ خو هغه دُښمن مه گڼئ بلکه دَ ورور په شان نصيحت
ورته کوئ.

## برکت

١٦ اوس مالِک چه دَ سلامتئ سرچينه دے په خپله دِ تاسو
ته هر وخت اَؤ هر قسم تسلی وبخښی. مالِک دِ ستاسو ټولو
سره وی.

١٧ زهٔ پولوس په خپل لاس سلام درته ليکم، په هر خط
کښې دغه زما نخښه ده، زهٔ دغه شان ليکم.

١٨ زمُونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح فضل دِ تاسو ټولو سره
وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ١٩٩٦
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.